(c) ketabton.com: The Digital Library

# ترنګ څه ته وايي ؟

ترنګ هغه ژبنی يوون دی، چې دوه يا لـه دوو ډېر ژبني يوونونـه، ويـي او توکي سره ونښلي او يوويی او يا يومانيز جوړښت ترې جوړ او ځانله مانا ونښندي (۳: ۲۹).

ترنګ د هغـو دوو يـا ډېـرو (خپلواکـو او نـاخپلواکو) وييونـو او ګړونـو يـو ځای کېده دي چې رغنده توکي يې يو له بله سره پښوييز اړيکی ولـري يـا د دوو يا ډېرو خپلواکو او ناخپلواکو ګړونو غونډ دی، چې برخې يې يو لـه بل سره پښوييز اړيکی ولري. د ترنګونو د څېړنې او لوستنې څخه داسې څرګندېږي، چې ترنګونه د مانا او جوړښت له مخې بېلابېل ډولونه لري.

د ترنګ ځانګړنې:

۱ – ترنګ له دوو يـا ډېـرو خپلواکـو او نـاخپلواکو ګړونـو او وييونـو څخـه جوړېږي.

۲ – په ترنګ کې يوويی د بل تابع ګرځي.

۳ – په ترنګ کې د وييونو ترمنځ غونډله پوهيز اړيکی ټينګېږي.

۴ – ترنګ تر ويي پراخ او ترښتي مانا څرګندوي.

۵ – د غونډلې او ترنګ ترمنځ توپير او بېلوالی اړين دی (۱: ۳۹،۴۱).

د ترنګ ډولونه:

په پښتو کې ترنګونـه لـومړی پـه دوو ډلـو وېشـل کېـږي، چې هـره ډلـه بيـا نورې برخې لري، هغه دوې ډلې دادي:

الف ـ نوموال ترنګونه:

هغـه ترنګونـه دي، چـې د ترنـګ آره او بنسـتېزه برخـه يـې نـوم وي او دغـه ترنګونـه پـه غونډلـه کې د ايښي او پـه نومواله غونډلـه کې د ايښـوني پـه برخه کې راځي.

